پرمختیا
اوونیزه

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت

هیله بخښونکي خبرونه!

۱۳٤ مه ګڼه ● پنجشنبه ● د چنګاښ ۲٦ مه ● د ۱۳۹۹ کال

په اروزګان کې به د پرمختیایی پروژو د پلي کولو بهیر چټک شي

٥

په بغلان کې د ۱۵.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت دوه پلونه جوړ شول

٤

په کاپیسا کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲ کیلومتره سړک د کانکریټولو کار روان دی

۷

په کابل کې د ٥.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو کاریز او اوبه خور دکانال د جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو

٦

په ننګرهار ولایت کې ۲۵۰۰ کلیوالي مېرمنې د غالیو په اوبدلو بوختې دي

۸

ښځه هم کولای شي!

فریده د پنځو بچیانو مور ده. ۷ کاله دمخه هغه مهال چې مشر اولاد یې لس کلن وو، خاوند یې له لاسه ورکړ.

د فریدې خاوند د لارې چلوونکی و او په یوې ترافیکي پیښې کې یې له دې فانې نړۍ سترګې پټې کړې وې.

هغه وایي: کله چې زما خاوند وفات شو، زما د کورنۍ او بچیانو لګښت مې مشر ورور پرې کولو. د وخت په تېریدو د هغه په رویې کې هم بدلون راتللو او دا حالت راته ډېر دردوونکی و. شپه او ورځ به مې د خاوند په بیلتون کې ژړل او دا چې هېڅ عاید مې نه درلوده، چې بچیان ښوونځي ته ولیږم نو په دې به ډېره ځوریدم.

د فریدې په وینا له دې وړاندې چې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام د دوی کلي ته راشي، فریدې ډېر سخت ژوند تیرولو. لېکن کله چې له پروګرام سره په سپماګروپ کې یوځای شوه د هېلو یوه دریځه ورته پیدا شوه او په دې فکر کې شوه، چې څنګه کولای شي یو ښه عاید لرونکی کاروبار پېل کړي.

هغه چې د ارام د ګروپ غړې ده، د لومړي ځل لپاره یې له خپل ګروپ څخه څلور زره افغانۍ پور د یوې کوچنۍ هټۍ د جوړولو لپاره واخیستې چې په دې پیسو یې یوه کوچنۍ هټي د حویلۍ څخه بهر د لویې دروازې ترڅنګ جوړه کړه.

د فریدې دولس کلن مشر ځوی موسی نیمه ورځ ښوونځي ته ځي او پاتې وخت بیا په هټۍ کې ناست وي، فریده وایي: د دې هټۍ له جوړولو وروسته چې کله پلورنه یو څه ښه شوه، لږ لږ یې د پیسو په سپمولو پېل وکړ او په دې پیسو یې یوه خوسۍ رانیوله، هوډ لرم چې د دې شیدې هم د پلورنې په موخه هټۍ ته ولیږم؛ چې زما ځوی ډېره ګټه پکې وکړي.

فریده وایي څه موده وړاندې کله چې زما لورکۍ اتلس کلنه شوه، له ما څخه یې وغوښتل چې هغه هم د سپما په یو ګروپ کې داخله کړم؛ ما د هغې خبره ومنله او هغه مې د ګاوندي کلي په سپما ګروپ کې داخله کړه. د هغې په وینا اوس د هغې لور راحیل د ګاوندي کلي د سپماګروپ غړې ده، چې ګروپ یې د (یاران) په نامه یادیږي. د دې لپاره چې راحیله هم له

خپل ګروپ څخه د ورور د هټۍ لپاره پور ترلاسه کړي.

فریده چې اوس یې د پخوا په پرتله ډېره خپلې روښانه راتلونکې ته هیله منه ده، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام له رهبرۍ څخه په دې مننویه ده؛ چې پخپله هغې او د کلي نورو مېرمنو ته یې داسې کاري فرصتونه چمتو کړي دي.

فریده او د ګروپ غړي یې وایي: مخکې له دې چې پروګرام زموږ کلي ته راشي، موږ به یواځې د کور په کارونو بوختې وو او له هغو پرته مو آن په فکر کې هم هېڅ کاروبار نه و، لېکن اوس چې موږ د کلي مېرمنو ته څرګنده کړه چې موږ هم کولای شو؛ چې کاروبار ولرو او د خپلو نارینه و ترڅنګ اوږه په اوږه د ژوند د اړتیاو په برخه کې د هغوی مرسته وکړو .

هغې وویل: «موږ همت کوو او د دې پرځای چې بې روزګاري وزغمو، په بې وزلۍ او فقر کې ژوند وکړو، پخپلو پښو درېږو او د خپلو نارینه و ترڅنګ اوږه په اوږه کار کوو او ټولو ته دا په ډاګه کوو چې ښځې هم کولای شي خپلې کورنۍ ته حلالې پیسې پیدا کړي» فریدې دا وویل او ما هم ولیکل، ترڅو نور یې هم ولیکي او یوه ورځ داسې هم راشي چې ټول ووایي: (ښځې هم کولای شي!)

په کاپیسا کې د ٦.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۸۰ متره سړک کار روان دی

۱۹ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړونې ملي پروګرام له لوري د کاپیسا ولایت د حصه اول کوهستان ولسوالۍ په تپه زار کلي کې د ٦.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۵۸۰ متره سړک د کانکریټولو او د اوبو وتلو د لارو جوړولو کار روان دی.

ددې سړک د جوړولو په ترڅ کې لسګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده او په جوړیدو به یې د یاد کلي د وسیدونکو او زده کونکو ترانسپورتي ستونزې هوارې شي.

په تیره اونۍ کې د هیواد په ۴ ولایتونو کې د ۴ ښوونځیو د جوړیدو چارې بشپړې شوې

۲٦ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون پروګرام د اقرا برنامې تر سیوري لاندې له لوري د هیواد د بادغیس ولایت په مقر، د کندهار ولایت په پنجوایي، د هرات ولایت په کشک رباط سنګي او د پکتیکا ولایت په برمل ولسوالیو کې د ۴ ښوونځیو د جوړیدو چارې بشپړې و ګټې اخستنې ته وړاندې شول.

دا ښوونځي ۸ یا ٦ ټولګي، تشنابونه او د څښاک د اوبو څاه ګانې لري او د ۱۱۸۰ زده کوونکو لپاره یې د زده کړو وړ چاپیریال رامنځته کړی دی.

له دې سره سره د کندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې د یوه ښوونځي د جوړیدو چارې ۹٦ سلنه پر مختللي دي چې د جوړیدو پر مهال یې ۲۴۰۰ کاري ورځې رامنځته شوي دي او په بشپړیدو به یې ۱۵۰ زده کوونکي ترې ګټه پورته کړي.

په لغمان کې د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۹ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د اوبو رسولو د ملي پروګرام له لوري د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالۍ تماین کلي کې د یاد ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا د رییس او اړوندې شورا تر منځ د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې هوکړه لیک لاسلیک شو.

دا شبکه ۹۰ متره ژوره څاه او یوه ۲۰ متر مکعبه زیرمه لري چې په جوړیدو سره به یې د تماین کلي ۲۰۰ کورنۍ د څښاک له پاکو اوبو برخمنې شي.

په سرپل کې د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې هوکړه لیک لاسلیک شو

۱۹ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له لوري د سرپل ولایت سانچارک ولسوالۍ په ده مرده کلي کې د یاد ولایت د کلیو بیا رغونې او پراختیا رییس او اړوندې پرمختیایي شورا تر منځ د ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې هوکړه لیک لاسلیک شو.

دا شبکه ۱۸٦۲ متره اوږدوالی یوه ۹۵ متره ژوره څاه یوه ۲۰ متر مکعبه اوسپنیزه کانکریټي زیرمه او ۱۸ سولري هنداري لري چې په جوړیدو به یې ۵۳۱ کورنۍ د څښاک له پاکو اوبو برخمنې شي.

په اروزګان ولایت کې د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام چارې پر مخ روانې دي

۱۳۹۹ - چنګاښ - ۲۴

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا ملي پروګرام په اروزګان ولایت کې د همکارو موسسو په همکارۍ د ۲۰۲۰ ز کال په فبروري میاشت کې پر فعالیت پیل وکړ.

یاد پروګرام د اروزګان ولایت په ترېنکوټ کې پلی کېږي، چې تر دې دمه په ترېنکوټ ښار کې د پروګرام له لوري ۱٦۰ د سپما ګروپونه جوړ شوي‌دي، چې له‌دې جملې څخه ۱۰۲ ښځینه ګروپونه چې په‌کې ۱۰۱۱ تنه مېرمنې تر پوښښ لاندې راغلي دي، ۵۸ نارینه ګروپونه چې په‌کې ۵۵۴ نارینه بې‌زوله کلیوال تر پوښښ لاندې راغلي دي.

په بامیان کې د یو کرنیز کانل کار روان دی

۲۳ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ټرون ملي پروګرام له لوري د بامیان ولایت ورس ولسوالۍ بستوک کلي کې د یو کرنیز کانال کار ۸۵ سلنه پر مختللی دی.

ددې کانال د جوړیدو په ترڅ کې زرګونه کاري ورځې رامنځته کېږي او پر بشپړیدو به یې ۲۵ کورنۍ ترې ګټه پورته کړي.

په بغلان کې د ۱۵.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت دوه پلونه جوړ شول

۲۴ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي لار جوړولو پروګرام له لوري د بغلان د پلحصار ولسوالۍ په باغدره او انامک سیمو کې د ۱۵.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت ۴۷۰ متره سړک او دوه اتصالي پلونه جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

دا پلونه ۱۵ او ۱۷ متره اوږده دي چې د کار په ترڅ کې یې ٦۸۱۲ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې وه.

باید ووایو چې له دې دوو پروژو به په ۹٦ کلیو کې ۲۵۱۰ کورنۍ په مستقیم ډول ګټه واخلي ترانسپورتي ستونزې به یې هوارې شي، کرنیز محصولات به یې بازار ته لاره پیدا کړي او په دې به وتوانېږي چې خپل ناروغان په اسانه روغتونونو ته ولېږدوي.

په بامیان کې د اوبو بریښنا دیوې کوچنۍ شبکې کار روان دی

۲۳ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري د بامیان ولایت ورس ولسوالۍ په قرغجور کلي کې د اوبو بریښنا دیوې کوچنۍ شبکې کار ٦٥ سلنه پر مختللی دی.

ددې پروژې په ترڅ کې لسګونه کاري ورځې رامنځته شوي او په جوړیدو به یې ۱۲۸ کرنۍ ترې ګټه پورته کړي.

په اروزګان کې به د پرمختیایی پروژو د پلي کولو بهیر چټک شي

۱۳۹۹/چنګاښ/۲۴

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر پوهندوی مجیب الرحمن کریمي د ارزوګان ولایت له والي محمد شفیق اسدالله سعید سره په لیدنه کې د یاد ولایت د خلکو ستونزې واوریدې.

د ارزوګان والي د کوچنیو سربندونو، سرکونو او پلونو د جوړولو غوښتنې د کلیو بیارغونې او پراختیا له وزیر سره شریکې کړې.

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر وویل، په ارزوګان کې به د کاریزونو د بیارغونې په موخه د سروې کولو چارې پیل کړي او د دې ترڅنګ د اوبو مدیریت کولو په پلان کې ارزوګان ته پاملرنه شوې، چې کوچنۍ سربندونه، ویالې او د کرنیزو ځمکو د اوبو کولو په موخه په کې کانالونه شامل دي.

په سرپل کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې کار روان دی

۲۴ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت له لوري د سرپل ولایت د ګوسفندي ولسوالۍ په ابخور کلي کې د ۱۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو د یوې شبکې کار روان دی.

دا شبکه ۱۴ کیلو متره اوږدوالی، یوه اوسپنیزه کانکریټي زیرمه، ٦ فشار ماتونکي، ۵۰ سولري ښیښې، د فشار د کمولو ۳ والونه او ۵۱ نلکې لري چې په بشپړتیا سره به یې ۷۱۵ کورنۍ د څښاک له پاکو او صحي اوبو برخمنې شي.

په سرپل کې د ۵.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲٦۰ متره محافظوي دیوال کار روان دی

۲۴ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د سیمه یزو پروګرامونو د همغږۍ ددفتر له لوري دسرپل ولایت سنچارک ولسوالۍ په اوقاف شرقي کلي کې د ۵.۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲٦۰ متره محافظوي دیوال کار روان دی.

ددې پروژې په تطبیق سره به لسګونو کاریګرو ته د کار زمینه برابره شي او په جوړیدو به یې د کلي جومات او ۳۰۰کورنۍ د موسمي نیزونو له ګواښه خوندي شي.

په بغلان کې د ۷ میلیونو افغانیو په ارزښت د دوو پرمختیایي پروژو کار روان دی

۲۴ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون د پروګرام له لوري د بغلان ولایت دده صلاح ولسوالۍ د جر درې په در کلیو کې د ۷ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو د بریښنا یوه وړه شبکه او د اوبو رسولو د یوې جاذبوي شبکې جوړولو کار روان دی. له دې پروژو د بریښنا پروژه ۲۸ کیلو واټه توربین او ۳۰۰ متره کانال لري د اوبو رسولو شبکه د ۲۰ متره مکعبه اوبو ظرفیت لري.

ددې پروژو په تطبیق سره به ۲٦۴ کورنۍ د څښاک صحي اوبو او بریښنا ته لاسرسی پیدا کړي.

یاده دې وي چې جر دره د اندراب په پای کې پرته ده چې د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت ولسي ترون پروګرام تر خپل پوښښ لاندې راوستې.

په کابل کې د ۵.٦ میلیونه افغانیو په ازرښت د یو کاریز او اوبه خور دکانال د جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو

۲۴ جنګاښ ۱۳۹۹

دکلیو بیارغونې او پر اختیا وزارت له لوري دکابل ولایت دخا کجبار ولسوالۍ په با غګي کلي کې د ۵.٦ میلیونه افغانیو په ازرښت د یو کاریز او اوبه خور دکانال د جوړولو هوکړه لیک دیاد ولایت دکلیو بیا رغونی او پرا ختیا رئیس او اړوندی شورا تر منځ لاسلیک شو.

دغه پروژه به په (۱۸) میاشتو کې بشپړه شي او په بشپړیدو سره به یې لسګونه جریبه ځکمه د اوبه خور تر منظم پوښښ لاندې راشي.

په هرات کې ۴۸ پراختیایي شورا ګانو ته د کرونا ویروس په هکله پوهاوی ورکړ شو

۱۳۹۹/چنګاښ/۲۴

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د ولسي ترون ملي پروګرام له لوري او دعامې روغتیا وزارت د لارښود له مخې د هرات ولایت د کرخ ولسوالۍ ۴۸ پراختیایي شورا ګانو ته د خوراکي توکو د ویش د کمیټې د جوړیدو او د کرونا ویروس، له هغه سره د مبارزې د څرنګوالي او له هغه څخه د مخنیوي په هکله لازم پوهاوی ترسره شو. په دغه کمپاین کې د پراختیایي شورا ګانوغړو ګډون درلود. هغوی ژمنه وکړه چې دا مالومات به د خپلو کلیو په کچه له خلکو سره شریک کړي.

په کاپیسا کې د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲ کیلومتره سړک د کانکریټولو کار روان دی

۲۵ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د ملي لارجوړونې پروګرام له لوري د کاپیسا ولایت نجراب ولسوالۍ له باغ امان تر متان دره پته کلي د ۳۵ میلیونه افغانیو په ارزښت د ۲ کیلومتره سړک د کانکریټولو کار روان دی.

ددې پروژې په تطبیق به د سیمې د خلکو ډیری ستونزې هوارې شي.

په لغمان کې د ۴.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبورسولو د یوې شبکې کار پیل شو

۲۵ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د یونیسیف نړیوالې ادارې په مالي ملاتړ د لغمان ولایت په سلطان سیمه کې د ۴.٦ میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبورسولو د یوې سولري شبکې کار پیل شو.

دا شبکه یوه ۸۰ متره ژوره څاه او ۴۰ مترمکعبه د اوبو یوه زیرمه لري او په جوړیدو به یې ۲۲۵ کورنۍ د څښاک له پاکو اوبو څخه برخمنې شي.

په پنجشیر کې د ۱۴ کیلومتره سړک د پخولو سروې پیل شوه

۲۵ چنګاښ ۱۳۹۹

د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي سړک جوړونې پروګرام له لوري د پنجشیر ولایت له عمومي سړکه د دغه ولایت تر ده منجهور کلي پورې د ۱۴ کیلومتره سړک د پخولو تخنیکي سروې پیل شوه.

ددې سړک په جوړولو سره به د سیمې د خلکو د ترانسپورتي ستونزو لویه برخه هواره شي.

په ننګرهار ولایت کې ۲۵۰۰ کلیوالي میرمنې د غالیو په اوبدلو بوختې دي

۱۳۹۹- چنګاښ - ۲۵

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي اقتصاد د پیاوړتیا پروګرام په ننګرهار کې نږدې ۲۵۰۰ تنو ته د غالۍ اوبدلو په صنعت کې بوختیاوې رامنځته کړېدي، چې ډېری یې میرمنې دي.

یاد پروګرام د ننګرهار د نورو سیمو سربېره د بهسودو ولسوالۍ د تعمیراتو په سیمه کې هم ۱۳۸ تنو ته د غالۍ اوبدلو په سکتور کې د مشغولتیا زمینه برابره کړې، چې ۱۰۰ تنه یې میرمنې او ۳۸ یې نارینه دي.

د دې سیمې غالۍ اوبدونکې وایې: د غالۍ اوبدلو له صنعت سره سم په دې سیمه کې د بې روزګارۍ کچه راټیټه شوې او خلک کولای شي چې له دې لارې د خپلو کورنیو اړتیاوې پوره کړي.

دوی زیاتوي، هره میاشت نږدې ۱۵۰ متره

اوبدل شوې غالۍ بازار ته وړاندې کوي، چې یادې کورنۍ د ژوند ټولې چارې له غالیو څخه په ترلاسه شویو پیسو پوره کوي. لېکن غالۍ اوبدونکي د پروګرام له اړوندې پروژې څخه یوه غوښتنه لري، هغه دا چې که د اومه موادو او په ځینو نورو برخو کې ورته د پام وړ اسانتیاوې برابرشي؛ نو د ننګرهار غالۍ به په نړیوالو بازارونو کې لومړی مقام ترلاسه کړي.

په نورستان کې ۲۳٦ کلیوالي کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شویدي

۱۳۹۹/چنګاښ/۱٦

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت د ولسي تړون ملي پروګرام په وسیله د نورستان ولایت دواما ولسوالۍ اړوند پاري اثر آباد کلي کې د ۱ میلیون افغانیو په لګښت داوبورسولو یوه شبکه بشپړه او ګټې اخستنې ته سپارل شویده.

نوموړې شبکه ۱۵ زره لیتره یوه زیرمه او ۸ نلکې لري چې۲۳٦ کلیوالي کورنیو ته یې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړي دي.

د یادونې وړ ده چې د دغې پروژې د کار په بهیر کې ماهرو او غیرو ماهرو کاریګروته ۸۴۵ کاري ورځې برابرې شوېدي.